

# اینځر ګل

# Magozwe


Lesley Koyi
Wiehan de Jager
Zahidullah Abid

5
پښتو ps / English en



د کینیا پلازمینه نیروبي ته اړوند په یوې سیمه کې بې کوره ځوانانو ژوند کاوه. دوی هره ورځ به له بیکارۍ سره پیلوله او دشپې به په سړکونو ویده کیدل، د شپې به یې یخ هم کیده. انځر ګل چې له نورو ځوانانو سره ګډ اوسېده په ګډه به یې کثافات او له کاره لویدلي توکي د ځان تودولو په خاطر راوړل، چې ځانونه پرې ګرم کړي.

• • •

In the busy city of Nairobi, far away from a caring life at home, lived a group of homeless boys. They welcomed each day just as it came. On one morning, the boys were packing their mats after sleeping on cold pavements. To chase away the cold they lit a fire with rubbish. Among the group of boys was Magozwe. He was the youngest.



کله چې د انځرګل مور او پلار مړه شول، هغه مهال دی پنځه کلن واو له خپل تره سره یو ځای اوسېده، خو تره یې سمه پالنه نه کوله، سم خوراک به یې نه ورکوه، چلند یې ورسره ښه نه و، ان تر دې چې انځر ګل مجبور شو چې سخت او درانده کارونه وکړي.

• • •

When Magozwe’s parents died, he was only five years old. He went to live with his uncle. This man did not care about the child. He did not give Magozwe enough food. He made the boy do a lot of hard work.



کله به چې انځرګل کوم شکایت وکړ، تره به یې واهه، د ښوونځي څخه یې منع کړی و، تل به یې تحقیروه، ورته ویل به یې چې، "ته ساده یې په هېڅ نه پوهیږې." بلاخره داسې ورځې ته یې مجبور کړ، چې له تره وتښتي او په صحرا کې ژوند وکړي.

• • •

If Magozwe complained or questioned, his uncle beat him. When Magozwe asked if he could go to school, his uncle beat him and said, “You’re too stupid to learn anything.” After three years of this treatment Magozwe ran away from his uncle. He started living on the street.



. د سړکونو پر غاړه به ده ته ژوند ډیر ستونزمن و، د ده په څیر نورو هلکانو به
هم د یو څه خوراک لاسته راوړلو لپاره هڅه کوله، ژوند یې تریخ و، کله کله به
د دې ډلې څخه به چې یو ځوان ناروغ شو او د مرستې لپاره به یې هېڅوک
نه لرل. داسې وخت به هم و چې له بل چا به یې لږې پیسې پور کړې، د
سړک پر غاړه به یې پلاستیکونه را ټولول او بیا به یې پلورل.

• • •

Street life was difficult and most of the boys struggled daily just to get food. Sometimes they were arrested, sometimes they were beaten. When they were sick, there was no one to help. The group depended on the little money they got from begging, and from selling plastics and other recycling. Life was even more difficult because of fights with rival groups who wanted control of parts of the city.



یوه ورځ په داسې حال کې چې انځرګل د کثافاتو یوه کڅوړه پلټله، د کیسو یو زوړ کتاب وموند. او په خپلې بوجۍ کې یې واچولو. له دې وروسته به هغه هره ورځ همدا کتاب را ایستلو او یوازې تصویرونو ته به یې کتل ځکه ښوونځي یې لوستی نه و، چې کتاب ولولي.

• • •

One day while Magozwe was looking through the dustbins, he found an old tattered storybook. He cleaned the dirt from it and put it in his sack. Every day after that he would take out the book and look at the pictures. He did not know how to read the words.



په تصویرونو کې د یوه ځوان هلک کیسه بیان شوې وه، چې څنګه پیلوټ شو. د انځرګل په ذهن کې به هم دا خبره ګرځېدله چې پیلوټ شي او موخو ته ورسیږي، ان تر دې چې ځینې وخت به یې فکر کوه چې د کیسې اصلي کرکټر دی خپله دی.

• • •

The pictures told the story of a boy who grew up to be a pilot. Magozwe would daydream of being a pilot. Sometimes, he imagined that he was the boy in the story.



یوه ورځ چې هوا ډېره سړه وه، انځرګل د سړک پرغاړه ولاړ و، څنګ ته یې یو ځوان ودرېده. د سلام کلام وروسته یې وویل "زه صمیم یم او د کار ځای مې همدلته نږدی دی." پوهیږم چې خوراک ته اړتیا لرئ، د دې خبرې په کولو سره صمیم د لاس په اشاره ژیړ کور ته وکتل، او زیاته یې کړه، "انځرګله ورشه او همدې ځای کې به تاته د خوراک لپاره یو څه په لاس درشي."
انځرګل اول دې سړي ته وکتل، شیبه وروسته یې مخامخ ژیړ کور تر سترګو تیر کړ. بیا یې زیاته کړه، "شاید همداسې یو څه وي او حرکت یې وکړ."

• • •

It was cold and Magozwe was standing on the road begging. A man walked up to him. “Hello, I’m Thomas. I work near here, at a place where you can get something to eat,” said the man. He pointed to a yellow house with a blue roof. “I hope you will go there to get some food?” he asked. Magozwe looked at the man, and then at the house. “Maybe,” he said, and walked away.



کله کله به صمیم د انځرګل په ګډون له نورو بې کوره هلکانو سره لیدل. صمیم به د دوی کیسې اورېدې او د هغو خلکو سره به یې زړه سوی درلود چې کور نه لري، او د سړک پر غاړه ژوند کوي، هغه یو ډیر مهربانه او با ادبه ځوان و.

...

Over the months that followed, the homeless boys got used to seeing Thomas around. He liked to talk to people, especially people living on the streets. Thomas listened to the stories of people’s lives. He was serious and patient, never rude or disrespectful. Some of the boys started going to the yellow and blue house to get food at midday.



انځر ګل د سړک پرغاړه ناست و او د کتاب پاڼې یې اړولې، صمیم هم د ده تر څنګ کښیناسته او ترې وپې پوښتل، "دا کیسه د څه په اړه ده" انځرګل په ځواب کې ورته وویل: "د هغه ځوان په اړه ده چې د ژوند له ناخوالو سره مبارزه کوي او بلاخره پیلوټ کېږي." صمیم په خبره کې ور ولوید "د هلک نوم څه دی؟" انځرګل وویل "زه لیک نه شم لوستلای او نه پوهیږم چې د هلک نوم څه دی."

• • •

Magozwe was sitting on the pavement looking at his picture book when Thomas sat down next to him. “What is the story about?” asked Thomas. “It’s about a boy who becomes a pilot,” replied Magozwe. “What’s the boy’s name?” asked Thomas. “I don’t know, I can’t read,” said Magozwe quietly.



د دوی په دې لیدنه کې، انځرګل د خپل ژوند کیسه صمیم ته پیل کړه. هغه د خپل تره کیسه ورته وکړه، او داچې دی ولې له کوره وتښتېده. صمیم ډېرې خبرې نه کولې، او نه به یې انځرګل ده ته څه ویل چې څه وکړي، مګر هغه به تل د انځرګل خبرې په غور سره اورېدلې. ځینې وختونه به دوی په آبي چت لرونکي کور کې د ډوډۍ خوړلو پر مهال هم کیسې کولې او د زړونو بړاس به یې ویستلو.

• • •

When they met, Magozwe began to tell his own story to Thomas. It was the story of his uncle and why he ran away. Thomas didn’t talk a lot, and he didn’t tell Magozwe what to do, but he always listened carefully. Sometimes they would talk while they ate at the house with the blue roof.



د انځرګل په لسمه کليزه کې، صميم هغه ته د کيسې يو نوی کتاب ورکړ. دا د يوه کلي د هلک کيسه وه چې څنګه ترې د فوټبال مشهور لوبغاړی جوړ شوی و. صميم دا کيسه څو ځله انځرګل ته ولوستله، تر دې چې يوه ورځ يې ورته وويل: "زه فکر کوم دا هغه وخت دی چې ته بايد ښوونځي ته ولاړ شې او لوستل زده کړې، ته څه فکر کوې؟" صميم دا هم ورته وويل، "چې هغه ته يو داسې ځای معلوم دی، چې ماشومان پکې پاتې کيدی شي او هم ښوونځي لوستلی شي."

• • •

Around Magozwe's tenth birthday, Thomas gave him a new storybook. It was a story about a village boy who grew up to be a famous soccer player. Thomas read that story to Magozwe many times, until one day he said, "I think it's time you went to school and learned to read. What do you think?" Thomas explained that he knew of a place where children could stay, and go to school.



انځرګل نوي ځای او ښوونځي ته د تللو فکر وکړ، خو د تره خبرې یې په زړه کې ګرځیدې، چې تل به یې ورته ویل "ته تنبل یې، په څه نه پوهېږې." د انځر ګل ذهنیت ښوونځي ویلو ته اماده نه و او د سړک د غاړې ژوند یې غوره ګاڼه.

...

Magozwe thought about this new place, and about going to school. What if his uncle was right and he was too stupid to learn anything? What if they beat him at this new place? He was afraid. “Maybe it is better to stay living on the street,” he thought.



هغه خپله ویره د صمیم سره شریکه کړه. د وخت په تېرېدو سره دې سړي هلک ته ډاډ ورکړ چې په نوي ځای کې به ژوند کیدای شي ډېر ښه شي.

• • •

He shared his fears with Thomas. Over time the man reassured the boy that life could be better at the new place.



او بالاخره، انځرګل په آبي چت لرونکي کور کې يوې کوټې ته وکوچېده. په دې کوټه کې دوه نور هلکان له ده سره يو ځای اوسېدل. په دې کور کې ټول لس ماشومان اوسېدل. زرينه ترور، د هغې ميړه، درې سپي، يوه پيشو، او يوه وزه هم اوسېدله.

. . .

And so Magozwe moved into a room in a house with a green roof. He shared the room with two other boys. Altogether there were ten children living at that house. Along with Auntie Cissy and her husband, three dogs, a cat, and an old goat.



انځرګل ښوونځی پیل کړ، هغه ته دا ډېره ستونزمنه وه. هغه ډېرو شیانو زده کولو ته اړتیا درلوده. ځینې وختونه هغه غوښتل چې تسلیم شي. مګر هغه د کیسو په کتابونو کې د پیلوټ او د فوټبال د لوبغاړي په اړه ډېر څه زده کړي و. د دوی په څیر، انځرګل هم تسلیم نه شو او د ژوند ښه کېدو لپاره یې هلې ځلې پیل کړې.

• • •

Magozwe started school and it was difficult. He had a lot to catch up. Sometimes he wanted to give up. But he thought about the pilot and the soccer player in the storybooks. Like them, he did not give up.



انځرګل د آبي چت لرونکي کور په انګړ کې ناست و، د ښوونځي د کیسې کتاب یې لوستلو. په دې وخت کې صمیم راغئ، او د هغه څنګ ته کښېناست. صمیم ترې وپوښتل"د څه په اړه کیسه ده؟" انځرګل ځواب ورکړ: "دا د یوه هلک په اړه ده چې څنګه ترې یو ښوونکی جوړېږي." صمیم ترې وپوښتل "د هلک نوم څه دی؟". انځرګل په خندا سره ځواب ورکړ"د هغه نوم انځرګل دی".

...

Magozwe was sitting in the yard at the house with the green roof, reading a storybook from school. Thomas came up and sat next to him. “What is the story about?” asked Thomas. “It’s about a boy who becomes a teacher,” replied Magozwe. “What’s the boy’s name?” asked Thomas. “His name is Magozwe,” said Magozwe with a smile.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## اینځر ګل

## Magozwe

Lesley Koyi
Wiehan de Jager
Zahidullah Abid (ps)

CC BY